# د پښتو نثر وده او په لیکنه کښي

## د غور وړ خبري

هره ژبه لکه نور ژوندي مخلوقات پخپل ژوندانه کښي د زمان او مکان تر اثر لاندي نشوونما کوي، اجتماعي او سیاسي او روحي عوامل ژبو ته یا وده ورکوي، یا ئې خټي، یا ئې له منځه باسي او وره کوي ئې.

زمانه چي کومي اجتماعي او سیاسي اوښتني او انقلابونه پر انسانانو باندي راولي یا جغرافي سیمي او مکان چي کوم خاص کیفیتونه د اقلیم او هوا او لوړي ژوري له پلوه لري، او یاکومه خاصه سیمه د تجارت او لښکري تګ راتګ لپاره، یا د انسانانو د ډله ئیز انتقال له پلوه ځانته اهمیت مومي، دا ټول هغه سببونه دي چي ژبي ژوندۍ کوي، یا ئې وژني، او کله په تاریخ کښي داسي دیني اوسیاسي او اجتماعي سرکتونه هم وینو چي ځ یوې ژبي د تفوق او خپروني لپاره په ډیرو لیرو سیمو کښي وسایل برابروي، او د انسان د ژوندانه اقتصادي

چاري هم د ژبو سره ښکاره او غټ اړيکي لري. مثلاً : د يوناني ژبي او ليک دود خپرېده په ټولو منځنۍ آسيايي سيمو کښي د اسکندر او دده د جانشينانو د سياسي او جنګي اقدام نتيجه وه چي اوس ئې موږ ډېر ليکونه او ښکاره فرهنګي اثرونه په ايران او افغانستان او ټکسيلا اوماوراء النهر کښي تر الماتي پوري وينو او په بغلان او آی خانم کښي د يوناني ژبي او رسم الخط آثار را ايستل کيږي.

دغسي هم په تاريخ کښي وينو چي عربي ژبه د اسلامي عقيدې سره يوځاي په اکثرو آسيايي او افريقايي مملکتو کښي داسي خپره سوه چي تر لس قرنه ددغو سيمو علمي او فرهنګي او ادبي ژبه وه، او تراوسه لاهم په ځينو سيمو کښي دغه مقام لري.

پښتو ژبه هم تر دغه قانون لاندي دا دولس سوه کاله په پښتنو کښي د خبرو او ادب او ليک ژبه ده، او اوس هم د افغانستان ملي او رسمي ژبه ګڼل کيږي مگر په پخوانو زمانو کښي د اجتماعي او سياسي عواملو تر اثر لاندي پښتو ته داسي موقع نه وه حاصل سوې چي په هغه ډول وده او لويښت وکي، لکه يوې ژبي ته چي ښائېده، ځکه چي ددربار او دفتر او ادب او فرهنګ ژبه عربي وه يا دري. د پښتنو پوهانو اوليکوالو که به هم قلم اخيست، نو به دوي په عربي او يا دري ژبه تاليفونه کول، کتابونه به ئې ليکل او شعرونه به ئې ويل چي تراوسه لاهم دغه سلسله جاري ده، او د افغانستان د دري ژبي لوي ليکوال او شاعران پښتانه دي. حقيقت هم دادی، چي پښتو ژبو افغانانو پښتو او دري يعني دواړي خپلي ژبي منلي او روزلي دي او که پښتو غواړي نو دا هم د اوسني ژوند يو مثبت تعليمي او فرهنګي او ملي ضرورت دی.

زموږ د فکر او اندېښني پيدايښت او لويښت په داسي فرهنګي چاپير کښي سويدی چي د پښتو او دري ادبي روايات ئې دوي تکړه پائې، لکه

خوشحال او رحمان چي زموږ د ثقافي ماڼيو معمارانو دي دغسي هم سنايي او جلال الدين بلخي او جامي پيژنو، او ددوي د ادبي تخليقاتو سره ټينګه روحي علاقه لرو.

پښتو ژبي په داسي ثقافي محيط کښي نشوونما کړيده چي له فکري پلوه ئې ادبيات ډير د دري ادب سره مشترک منابع او هدفونه لري، او له دې جهته ئې ډير کلمات، تعابير او اصطلاحات سره ورته دي او که موږ د يو پښتانه شاعر ديوان را واخلو، نو دی په سل کښي اويا هغه کلمات او اصطلاحات استعمالوي چي په دري ادب کښي هم سته.

د پښتوژبي د نشوونما علل او د ادبي تخليقاتو منابع ئې داسي تحليل کولاي سو :

١. کله چي پښتانه په اسلامي دوره کښي د مدني اوفرهنګي ژونده سره اشنا کېدل نو په دغو وختو کښي يو آريائي او ښکلی اسلامي خراساني فرهنګ دلته جوړ سوی وُ او پښتانه هم د يو مسلمان او مُجاهد قوم په ډول ددغه فرهنګ په غيږ کښي روزل کېدل، او دا فرهنګ هم دوي شرقاً تر بنګاله خپور کی. نو ځکه په پښتو کښي ددې فرهنګ نخښي هم په ادبي او هم فکري ساحه کښي ليدلي کيږي. مثلاً د دري د مشهور شاعر يو مسری ده:

از يک چراغ کعبه و بُتخانه روشن است

رحمان بابا هم ددغه فکر تر اثر لاندي داسي ويلي وو :

دا ځما د يار جلوه ده چي ليده سي
لکه لمر په صومعه په سومنات

٢. پښتو ادب په خپله قديمه دوره کښي د حماسي آريايي ادب په غيږ کښي روزل کېدی، او بيا د غزنويانو د دربار د قصيده سرايانو

شاعرانو د فکر او ادبي تخليقاتو اثرونه هم د غوريانو د دربار د قصيده ويونکو په وينا کښي ښه ښکاري. د امير کروړ اشعار خو حماسي دي، مګر د اسعد سوري او ښکارندوي قصيدې د مدح او رثاء په شکل کښي کټ مټ د فرخي او منوچهري د قصيدو منظر نګاري او مدحيه رنګ لري. او داسي ښکاري چي دلته يو مشترک فکري او فرهنګي چاپېر جوړ سوی ؤ، چي دری او پښتو ادب په ګډه هلته وده کوله، او مشترک منبع ئې درلوده. مثلاً : د اسعد سوري د محمد سوري د وېرني قصيده د فرخي د سلطان محمود د مرثيې سره ځنګ پر ځنګ کښېږدو، نو ددوي په منځ کښي ډېر فکري او هنري مشابهتونه پيدا کېږي، او دا ښکاري چي د دواړو شاعرانو ثقافي او فکري محيط ډېر سره نژدې ؤ.

۳. په لسمه پېړۍ کښي چي پښتو ادب د روښانيانو په فکري او سياسي چاپېر کښي وده کوله، دلته نو ددې کار لپاره دوې داعيې موجودي وې، اول دا چي د سياسي پلوه د افغاني سلطنت او عظمت بيا ژوندي کول ؤ، چي د زمانې ناوړو د خلجيانو او سوريانو او لوديانو شاهي او حماسي روايات له منځه وړي وو، نو ځکه روښانيانو ددغه بايللي عظمت د بيا موندلو لپاره مبارزه روانه کړي وه. دوهم داعيه دا وه چي ددې سياسي مبارزې سره يو روحي حرکت د تصوف او دينداري په شکل هم ملګری ؤ، او روښانيانو د سياست او روحانيت په سيوري کښي پښتو ادب هم راژوندی کاوه، نو روښان په خير البيان او دده درويزانو پخپلو پښتو ديوانو کښي د نظم اونثر په ګډو يو راز مسجع نثر جوړ کی چي دعربي او دری د فني نثر له مکتبه سره شباهت لري. مګر يو قرن وروست خوشحال خان او دده کورنۍ د اوسني نثر ليکلو اساس

کښېښو، او بیا وروسته محمد هوتک او نورو لیکوالو دغه بنسټ لا پسې ټینګ کی.

دشلم قرن په لومړنیو کلو کښې چې د نوي مدنیت او صنعتي عصر اثرونه پښتونخوا ته را ورسېدل نو د پښتو انشاء او لیکنه هم ورسره واوښته، او دغه اوښتنه مونږ په دوه ډوله ځیرو :

## ۱. د پښتو لیکنې ظاهري او انشائي خوا

چې د مولوي احمد جان او مولوي صالح محمد هوتک او بیا د خدایي خدمتګارانو اود بري او لري پښتونخوا د لیکوالو او پوهانو په همت د روښانیانو د ناوړه مصنوعي او د ختکو د نیمه معیوبه سبکه څخه و یوې داسي لیکنې ته راوګرځول سو، چې هم اسانه وه او هم د پښتنو د حجرو له ژبې سره نژدې وُ، او لیکوال خپل مطلب په داسي جملو کښې اداء کوی، چې هغه د ژبې د عمومي جریانه سره سم وې.

۲. د پښتو د لیکل سوو آثارو فکري او معنوي خوا هم په شلم قرن کښې واوښته د یوازي دیني او عقیدوي یا داستاني یاتصوفي مضامینو پر ځای د وطن مینه، د قوم اصلاح، د بیدو خلکو ویښونه، د آزادۍ ګټنه او د اروپایي ادب پلوشې دلته را داخلي سوې، او ژورنالیستي ادب هم رواج وموند، د ترجمې له پلوه ډېر نوي فکرونه او نوي خبري را پیدا سوې. نو ځکه د اوسني لیکوالو مخي ته هم د فکر او هم د ظاهري سبک له پلوه ډېر لوي مسئولیتونه ودرېدل او د پښتو ادب مخه هم له نظمه څخه د نثر خواته راوګرزېده، او باید چې په پښتو کښې ببله ژوردیستي ادبه، یو دروند اوپوخ علمي تهذیب هم پیدا سي، او د نوي علم ټول

کتابونه په دې ژبه وليکل سي، يا ترجمه سي. اوس به نو زه تر دغي مقدمې وروسته د پښتو په ليک کښي ځيني د غور وړ خبري تاسي ته واوروم، او د هري خبري دپاره به ځيني نظاير هم له اوسني ناوړه نثره څخه دروښيم :

## ۱. په ترکيب کښي د نورو ژبو له اثره ځان ژغورل :

هره ژبه ځانته خپل ترکيبي جوړښت لري، او ليکوال بايد هميشه دغه د ژبي خپل ساختماني نظام هېر نه کي. زموږ اوسنی نثر په خطرناک ډول د دری، انگريزي، عربی تر اثر لاندي داسي راځي چي بېله مفرداتو اوس موږ په ترکيب بندي کښي هم له نورو ژبو تعبيرونه په ناوړه ډول پخپله ژبه را ننه باسو، او دا يو داسي ناروا حرکت دی، چي پښتو حقيقتاً ډېره کرغېړنه کوي.

د مثال په توگه وايم : رول لوبوي، نقش لوبوي، نقش لري. دا ناوړه بدشکله او بدخونده تعبيرونه له کومي خوا پښتو ته را غلل ؟ دا خو انگريزي to play a Role څخه په ناجايز ډول اول دری ته راغلل "رول مهم را بازي کرد" بيا چي دې مقلدانو جنابانو وليدل، چي ددوي په خبره خو دغه اهل زبان هم نه پوهيږي، او هغه وايي چي رول بيا څه بلا ده، چي انسان بازی په کوي، نو دې جنابانو لږ څه له تقليده ځان وژغوری او د رول پرځاي ئې بيا هم يوه عربی اجنبی کلمه نقش ودراوه چي دا تر هغه لا بتره سوه. زموږ پښتنو مقلدانو هم وليدل، چي دری والو خو دا دوني کمال وکی هلئ نو موږ تر چا پاته يو دې جنابانو نو قلم راواخيست او ليکي :

پلانی صاحب په دې کار کښي مهم رول لوبوي، يا پلانی صاحب په دې کار کښي مهم نقش پر اوږو لري. آيا دغه سپک او ناوړه او بې

خونده تعبيرونه د هغه پلانی صاحب توهين نه دی؟ چي په غونډه انه او تنه بازی کوي، رول لوبوی، يا ئې پر اوږو باندي کوم نقش کړی دی.

په انگريزي کښي to take a decision وُ، ډيسيژن په دری کښي مستعمله مقابله بله کلمه نه درلوده نو لغت نويسانو ئې معنی تصميم او فتوی، قطع نامه، تصويب نامه وليکله : کله چي د نالايق مترجم مخي ته دغه انگريزي جمله راغله هغه کټ مټ، لفظ په لفظ ترجمه کړه ، "تصميم گرفت" او دا ناوړه بدعت ئې دري ته راووست، چي پخوا کورټ نه وُ استعمال سوئ. زموږ پښتون ليکوال چي دغه وليد نو چا مونده چي ما مونده فوراً ئې دغه په پښتو ترجمه کئ ، "تصميم ئې ونيوه" مگر که دغه ناروا او له ځانه جوړ سوي تعبير خلکو ته ووايو، هغه نو وايي چي دا تصميم څه بلا ده، چي هره ورځ ئې نيسي؟ ولي ئې په پړی ټينگ نه تړي چي بيا نيولو ته اړ نه سي.

"وظيفه را بعهده داشت، رياست کنفرانس را فلان بعهده داش" دا دری تعبيرونه دي، زموږ مترجم صاحب چي قلم راواخيست نو ئې داسي ترجمه کی، دا وظيفه ئې په غاړه وه، د کنفرانس ئې رياست د پلاني په غاړه دی !!! نه پوهيږو چي دا درناوی دی؟ که سپکاوی؟ دې فلاني صاحب څه شي په غاړه ځړولي دي؟ ښه داده چي داسي ووايو : پلاني دا وظيفه درلوده، يا ئې دا وظيفه وه، او پلانی د کنفرانس رئيس وُ، يا ئې د کنفرانس رياست کاوه.

دغسي ډيري نوري جملي دي، چي د نورو ژبو اثر د ورا پکښي ښکاري، لکه : داخبره تر بحث لاندي نيسي، چي بايد داسي وي : دا خبره څيړی يا پردې خبره بحث کوي. بل ليکوال وايي : معنوي تاريخ له تاريخ څخ عبارت دی، چي په پښتو بايد داسي ووايو : معنوي

تاريخ هغه دی. بل ليکونکی وايي : افغانستان د نړی د گردو خلکو دپاره خلاص سو، او يو زيات شمېر خلك لکه متخصصين، محققين، کارگران، ژورنالستان او گرځندوي افغانستان ته په راتگ شروع وکړه. په دې بيان کښې هم د فصاحت او هم د گرامر له پلوه نقص سته، ځکه خلاص سو، که افغانستان ته راجع سي، نو به مبهم وي، بايد وويل سي: د افغانستان ور د نړی د خلکو پر مخ خلاص سو، او بيا يو زيات شمېر خلك ... افغانستان ته په راتگ شروع وکړه، ماته گوډه جمله ده، بايد ووايو : زياتو خلکو افغانستان ته په راتگ شروع وکړه.

کله په جملو کښې حشو او زوايد هم وي، او که هغه حذف کو، نو جمله سپېڅلې پاتېږي، مثلاً يو ليکوال ليکي : هغه وخت کښې د خوشحال خان پلار دوه ويشت کلن وُ، د شهباز خان څخه ځلور زامن پاته سوي وه ... په دې جملو کي تر وخت وروسته ظرفي ( کښې) زايد دی ځکه کله چي زماني ظرف راسي، نو هغه پخپله زماني کيفيت ښئي بلي ظرفي زمانې ته ضرورت نسته، لکه زه سهار راغلم نوداسي نه وايو : زه سهار کي راغلم. په دوهمه جمله کښې زايد دی، ځکه چي د شهبازخان ځلور زامن پاته سوي وه، پخپله روښانه جمله ده، او اضافي (د) د نسبت او اضافت معنا ځرگندوي او دا جمله د دری تر اثر لاندي ده : از شهباز چهار فرزند باقي مانده بود. په بله جمله کښې هم د يوې او دپاره زايد ښکاري وايي : هغو کسانو چي د يوې ډېري مودې دپاره په افغانستان کښې استوگنه کړېده، بايد داسي وليکو : هغه کسان چي ډېره مُده په افغانستان کښې هستېدلي دي.

"ترتيبات گرفتن" د دری ژبې يوناوړه اومحدث تعبير دی، دې کرغېړن تعبير پر پښتو داسي اثر وکی، يو ليکوال وايي : او پښتانه د خپلو دفاعی ترتيباتو د نيولو دپاره شاوخوا غرونو ته وختل. دلته هم

بايد د نيول مصدر حذف سي، او ووايو : پښتانه د خپلو دفـاعى ترتيبـاتو دپاره شاوخوا غرونو ته وختل.

ترتيب كوم داسي شى نه دى، چي هغه ونيول سي، بلكي كيـږي، نو كې پر ځاي ترتيب كول هم ووايو، ښه بـه وي. پـه درى كښـي هـم ترتيبات گرفت بدعت ښكاري.

## ۲. د كلماتو پر خپل ځاى تاك

كله عام خلك داسي كلمات استعمالوي، چي د هغـو اسـتعمال پـه ادب كښي جواز نه لري، اديب بايد هره كلمه د ذوق او د خپل انتخابي قوت په حكم، پر خپل ځاى وټاكي، او هلته ئې استعمال كړي، د خـو مترادفو كلمو تر منځ هغه انتخاب كي، چي اصـيله او غـوره وي. مـثلاً ځيني خلك وايي : پلانى سړى له خپله كلي څخه شړونكئ دئ. يعنـي شړلئ سوئ دئ. شړونكئ سړى نفـي سـوئ دئ. دلتـه بايـد د ليكـوال ذوق فاعل له مفعوله جـلا كـى، او د شـړونكي سـړي پـر ځـاى شـړلئ سړى ووايي.

په راډيو كښي اروو چي خپل ايوانان داسي وروزئ د ايوان كلمـه د كوچني او واړه په معنا يوه خورا عاميانه اصطلاح ده، پـه پښتـو ئـې پـه مقابل كښي څو كلمې لرو : واړه، هلكان، كوچني، زېكى. نو ولي نـه وايو : خپل هلكان، خپل كوچنيـان، خپـل واړه، خپـل زېكـى داسـي وروزئ. او دا كلمې ټول پښتانه پېژني، په معنا ئې پوهيږي. مگر ستاسي نيم د غربي ولاياتو پښتانه چي د ايوانانو كلمه واوري دې تـه بـه منتظـر وي، چي راډيو وال د خرو او غويو د روزني خبري كوي، ايوان پښتـو كلمه نه ده، بلكي معنوي مغغنه ده، چي ځيني پښتانه ئې وايي نه گرده. مگر واړه، كوچنيان، هلكان داسـي كلمـې دي چـي هـر څـوك پـه

پوهيږي. چي اصيله پښتو کلمه وي ولي به داسي کلمه استعمالوو، چي هغه د چارپاي معنا هم ورکوي؟ آيا دا د انسان د مقام سپکاوی نه دی؟
که ئې عوام ووايي له هغو څخه څه گيله نسته مگر د ليک او راډيو ژبه بايد مهذبه وي.

۳ . کله کله غلط ترکيبونه هم په نوشتو او د بازار په لوحو کښي ليدل کيږي. مثلاً : د حبيبي ليسه، د نادرېي ليسه، چي په خپله هغه د نسبت معنا په حبيبيه او نادريه ليسه کښي پرته ده. او بايد حبيبيه لېسه، نادريه لېسه وليکل سي، نه اضافي دال ته ضرورت سته او نه د هغه گرامري عمل ته. البته که په ترکيب کښي تر عامل لاندي راسي هلته د عامل اثر پر ښکاره کيږي لکه له حبيبي لېسي څخه راغلم، اما په مجرد اضافي شکل کښي حبيبيه لېسه کافي ده.
په بازاري لوحو کښي ليدل کيږي : د پاچا گل سلماني؟ د نورمحمد سلماني؟ دا اضافي ترکيبونه خو دا ښئي، چي سلماني صاحب فقط پاچا گل او نورمحمد ته مخصوص دی. دلته اضافي دال بالکل زايد دی، او د پاچا گل او نور محمد شخصيت نه ښئي.
بل ځای ليکلي دي : د مرکزي قوا ، چي پخپله مرکزي قوا اضافي مفهوم لري، بل اضافي دال ته ضرورت نسته. دغسي هم د انوري درملتون، يا انوري درملتون فرق لري، که د سړي نوم انور وي، نو وايو انوري درملتون، او که د مالک نسب انوري وي، نو وايو : د انوري درملتون.

۴. کله په وينا او خبرو کښي د کلماتو اکسينټ يا حرکات ور اړوي، چي معنا ئې ورسره اوړي. مثلاً : ښه (پرمرغ) ښه (رنگ روی) چي

اول ئې دوه زور کیه اودوهم ئې دوه زوره لري، چې د اول جمع بڼې او د دوهم دا بڼې ده. دغسي هم اغېزه ، بشپړ ، جوله غلط دي، دا ټکي باید اغېزه ، بشپړ او جوله ووایو.

کله د حروفو او اصواتو په تغییر د کلمې معنا بالکل اوړي، مثلاً : د ش - ښ - خ - په اړولو سره معاني داسي تغییر کوي : ښره ( شوره) خره (توده) شور ( زوړ) خور ( خواهر) ښور (لانه مور) دغسي هم شار ـ ښار ـ خار درې کلمې دي، اوبیلي معناوي لري. دِغ مطلق صوت دی، حال دا چي ژغ ـ ګغ دوه اسم صوته دي، چي هر یو د خاص خاص دِغ حال ښکاره کوي. او غږ هم خاص اسم صوت دی، چي پر هر دِغ نه اطلاق کیږي. ژغهار ـ ګغهار ـ غړهار درې خاص خاص حالونه ښئي. او دِغ چي جلا لغت دی، دِغهار نه ځیني جوړیږي.

۵. کله کله د بعضو جملو هم معنا غلطه وي، اوهم ئې الفاظ غلت وي، مثلاً : یو لیکوال صاحب د خپلي تاریخ دانۍ ثبوت داسي کوي او په دې الفاظو :

" دکابل لومړنی اخبار شمس النهار نومېده، چي ماليار ئې علامه سید جمال الدین افغان ؤ، او د شیر علیخان په وخت کښي خپرېده (۱۸۶۳ـ ۱۸۷۹). لفظي او ادبي کمزوري ئې داده : چي یو سړی څنګه د شمس النهار ماليار کیږي؟ دا خو یو اخبار ؤ، چي باید چلوونکی یا لیکونکی یا مدیر یا مالك ولري، که ئې ځلوونکی لیکلی ؤ، بیا به هم موږ ویل چي د لمره سره څه تلازم لري. ماليار او لمر یا اخبار څه تناسب سره لري؟

د جملو معنا هم غلطه ده، هغه وخت چي شمس النهار خپرېدی، سید جمال الدین بالکل په افغانستان کښي نه ؤ، او نه ئې د شمس النهار

سره کوم تعلق درلود، نه ئې ماليار وٗ اونه چلوونکی اونه څلوونکی. امير شېر عليخان لومړی پلا د جون په دولسمه ۱۸۶۲ م پر تخت کښېنوست اوپه ۱۸۶۶ م له تخته ولاړ سو، او پر ځای ئې امير محمد افضل خان پاچا سو، په دې څلورو کلو کښې شمس النهار نه وٗ خپور سوی. دوهم پلا بيا دغه امير له ۱۸۶۸ م څخه تر ۱۸۷۸ م پوري شاهي کړېده، چې په دې دوره کښې شمس النهار خپرېدی، او د ۱۲۹۰ ه = ۱۸۷۳ م کلونه وو، خو تر دې دمخه سيد جمال الدين په ۱۲۸۵ هـ کال له کندهاره بمبئ ته تللی دی او د شمس النهار د خپرېدو پر وخت دی په مصر کښې وٗ. نو داسې ښکاري چې ښاغلی ليکوال هم تاريخ نه دی لوستی، او هم ئې د پښتو ليکنه نه ده زده. اود (خط غلط، معنا غلط، انشاء غلط، املاء غلط) ژوندی مصداق دی.

اوس به نو زه ددې وينا په پای کښې د پښتوليکني لپاره يو څو کلمات وړاندې کم چې زما په فکر د ليکوالو دپاره ئې رعايت ضروري دی:

1. د جملو په جوړښت کښې بايد د ژبې محاوره، اداء، او ترکيبي لوازم هېر نه سي او په دې کار کښې په وسيع اندازه د ګردي پښتونخوا د محاورې جوړښت په يو ترجيحي ذوق او قريحه په نظر کښې وي. د لانده او وچ فرق سره وسي، هغه ترکيبونه غوره وګڼل سي، چې د پښتو ګرامري ساختمان ئې مني. او سليم ذوق ئې پر غوره توب حکم کوي.
2. دکلماتو په استعمال کښې دې هغه غوره سي چې پښتو وي، او اصالت ولري، او که د نورو ژبو کلمات اخلو هغه به هم هغه کلمات وي چې د نورو افغاني ژبو سره مشترک وي، مثلاً د دکان يو داسې کلمه ده، چې هم ئې پښتانه استعمالوي او هم دری ژبي

خلک په پوهیږي، ددې پر ځای هتې یو خالصه هندي کلمه راوستل، او په دې فکر ئې په استعمال کښي ټینګار کول چي دا خو پښتو ده، مناسبه نه ښکاري.

۳. که د کوم مطلب دپاره پښتو کلمه نه سي پیدا نو دلته به هغه کلمه اخلو چي دمخه په پښتو ادب کښي له دری یا عربی څخه استعمال سوې وي، مثلاً که د ایلیکشن انګریزي کلمې په مقابل کښي کومه پښتو کلمه غوره کو ، نو هغه عربي مستعمله کلمه انتخابات هم لیکلای سو، ځکه چي دغه کلمه اوس په همدغه معنا خلکو منلې او پېژندلې ده. لکه د اولسي جرګې انتخابات، د ښاروالو انتخابات. یا که د پارټۍ اروپایي کلمې په مقابل کښي د پښتو ګوند وانه خلو، نو هغه عربي حزب هم استعمالولای سو ځکه چي زموږ په دوهمه ژبه دري کښي هم لکه انتخابات د حزب کلمه د سیاسي پارټۍ دپاره پېژندلې سوېده.

۴. پښتو ژبه په نغښته پښتونخوا کښي خاص خاص اصطلاحات اوپه انګریزي تعبیر terms لري چي په لیکنو او د مقاصدو په ښکاره کولو کښي خورا په کار راځي، او پر خپل ځای ئې استعمالول یو مهارت او فصاحت دی. مثلاً : خاشې پکښي ماتول، خاصه اصطلاح ده، چي څوک د یوه کار په نه کېدلو کښي په مهارت ممانعت کوي، مګر په داسي ډول چي څوک نه په وپوهېږي، نو که موږ داسي ولیکو چي پلانی ملت خو خپله آزادي غواړي مګر ها بل حکومت په دې کښي خاشې ماتوي. دا تعبیر هم خوږ او هم ادبي او هم د ژبي د مزاجه سره برابر دی.

۵. کله په نورو ژبو کښي خاص اصطلاحات وي، چي خاص مطالب په څرګندول کیږي، او که هغه کټ مټ راواخلو او استعمال ئې

کړو، نو مو ژبه او لیکنه بې خونده کیږي. مثلاً که ولیکو : چې د انګلستان رول د مشترک بازار په تاسیس کښي ډېر دی، ښه به دا وي چي ووایو : د انګلستان برخه یا زیار د مشترک بازار په جوړولو کښي ډېره ده، یا ډېر دی. د دری خاصه اصطلاح ده ( بدست آودرن) دا که موږ وغواړو چي کټ مټ ئې واخلو نو په پښتو لاس ته راوړل نه ځني جوړېږي، بلکي ( په لاس راوړل) همدغه مطلب لري. په خبرو کښي وايي : د پلانیو لښکرو قوماندان داسي امر لاس ته راوړی دی، دلته عیناً د (بدست آورده است) ترجمه کول سهوه ده، باید ووایو : د لښکرو قوماندان ته داسي امر رسېدلی دی، یا داسي امر ورته سوی دی.

۶. د پښتو پر لیکني زموږ راډیویي ژبه خورا ډېر اثر اچوي، سمعي تلقین د یوه نوکار مترجم لپاره بهترینه او موثر وسیله ده، زموږ راډیو ګاني هره ورځ د پښتو مضامین اوخبرونه خپروي، مګر ددوي لیکوال د پښتو پوښتی ور ماتوي، او باید سړی ورته ووایي: ( ستا پښتو خو د پښتو پوښتی کړې ماتي). خلک داسي ګُمان کوي چي د راډیو ژبه ثقه او صحیحه ژبه ده، نوئې تقلید کوي، او ناوړه تعبیرونه او اداوي په ژبه کښي د ناپوهو نطاقانو او لیکوالو له خوا خپریږي. نو له دې جهته باید د راډیو ژبه تل ثقه او صحیحه وي، چي اورېدونکی ګُمراه نه کي. د راډیو ګانو اداري باید په هفته یا میاشت کښي د ژبي یو پروګرام هم ولري، او مسلم استادان دعوت کي، چي د ژبي ځیني غلطی او ناوړي په انصاف او درنه لهجه تصحیح او انتقاد کي، او ښیله دې چي د چا نوم واخلي، د نطاقانو او لیکوالو ادبي او ژبني نواقص ور وښئي. چي نور اورېدونکي د هغو تقلید ونه کي، صحیح او سقیم سره بېل

سي. دا يوازي د پښتو لپاره مفيد كار نه دى، بلكي درى هم دغسي توجه غواړي.

پښتو ژبه او ددې نثر ليكنه اوس مخ پر انكشاف ده، كه په دغه اوسنۍ مرحله كښي احتياط وسي، او معياري لار ورته وټاكله سي، ښايي چي موږ په آينده كښي ښه او خوږ او متين نثر ولرو، او ښه ليكوال هم د ژبي د پالني دپاره وروزو.

بايد چي د پښتو ليكني ماهر استادان دې خواته توجه وكي او ژبه له يو خطرناك ادبي انحطاطه څخه وژغوري.(۱)

(۱) وږمه مجله، ۱۳۴۶ كال، ۲ مه ګڼه، ۱ـ۱۲ مخونه.